دو فصلنامهٔ
مجلهٔ علمی - تحقیقی عینک – علمي څېړنیزه شپږ میاشتنۍ
د امتیاز خاوند: لوګر پوهنتون
د مجلې د جواز نېټه: ۱۴ / ۱۱/ ۱۴۴۴

# لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې پر محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو څېړل

**پوهنیار نجیب‌الله نجیب**

د اروپوهنې او روزنیزو علومو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، لوګر پوهنتون، لوګر، افغانستان.

برېښنالیک: nn@logu.edu.af

**لنډیز / خلاصه**

**د مسئلې بیان:** له دې سره چې محصلان مطالعه کوي؛ خو په زده‌کړه کې یې علاقه او ګډون توپیر لري. ځینې محصلان فعاله دي، نور لږ علاقه ښئي. د دې توپیرونو اصلي لاملونه لا څرګند نه دي، له همدې امله دا څېړنه د محصلانو د تحصیلي انګېزې د لاملو د پېژندلو په موخه تر سره شوې ده.

**موخه:** لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې پر محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو څېړل.

**څېړندود:** څېړنه د موخې له نظره کارېدونکې، د معلوماتو او اطلاعاتو راټولولو له نظره کمي او تحلیلي-توصیفي مېتود کارول شوی ده. څېړنیزه ټولنه د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې ټول محصلان دي چې شمېر یې (۴۵) تنه دی. څرنګه چې ټولنه ډېره محدوده او کوچنۍ ده، نو ۴۰ تنه ټول محصلان دې شامل شي. د معلوماتو را ټولولو لپاره، د هرمنس معیاري پوښتنپاڼې څخه ګټه اخېستل شوې او اعتبار یې د کرونباخ الفا پر بنسټ (۰,۸۰۱) لاسته راغلی او همداراز په بېلابېلو څېړنو کې د پوښتنپاڼې اعتبار له ۰,۷۶ څخه تر ۰,۸۳ پورې ښودل شوی ده. معلومات د IBM-SPSS-26 پر بنسټ تحلیل او له (One way ANOVA) ټېسټ څخه ګټه اخېستل شوې ده.

**موندنې:** د څېړنې پایلو ښوده چې یوازې د لومړي ټولګي محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې اوسط د نورو ټولګیو پر نسبت لوړ ده. یعنې په دویم، دریم او څلوم ټولګیو کې تحصیلي انګېزه ټېټه ده. نو اړینه ګڼل کېږي چې د فزیک څانګې مسؤلین د دغې موضوع اړوند لازم اقدامات تر سره کړي تر څو د ناوړو پایلو څخه مخنیوی وشي.

**کلیدي کلیمې:** انګېزه، تحصیلي پرمختګ انګېزه، فزیک څانګې محصلان.

**استناد:** نجیب، نجیب‌الله. (۱۴۰۴). لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې پر محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو څېړل، عینک علمي-څېړنیزه شپږمیاشتنۍ مجله، دریم کال، پنځمه ګڼه، ۱۷۳-۱۸۸. خپرندویه اداره: لوګر پوهنتون © د لیکوال حق.

**سریزه**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰالَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلٰى آلِهِ وَاصَحْابِهِ أَجْمَعِينَ، وَبَعْدُ!

انګېزه د زده‌کړې په بهیر کې یو له مهمو او بنسټیزو فکتورونو څخه ګڼل کېږي چې د محصلانو د تحصیلي پرمختګ او بریا په تر لاسه کولو کې مرکزي رول لوبوي. هغه محصلان چې لوړه تحصیلي انګېزه لري، د تحصیلي ننګونو پر وړاندې مقاومت کوي، خپلې تحصیلي موخې په غوره ډول تنظیموي او د هغو د تر لاسه کولو لپاره دوامداره هڅې کوي. په مقابل کې، د انګېزې کمښت کولای شي د محصلانو پر تحصیلي لاسته‌راوړنو منفي اغېز وکړي، د زده‌کړو پروسه یې ورو کړي او حتی د تحصیل د پرېښودو لامل شي. همدارنګه، په قران عظیم الشان کې ډېرې داسې ایتونه شته، چې انسانانو علم او زده‌کړې لپاره انګېزه ورکوي. د بېلګې په ډوګه: **قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ** *سورة الزمر، آیت (۹)* ترجمه: ووایه (ای پیغمبره) ایا هغه کسان چې پوهه لري، له هغو کسانو سره برابر دي چې پوهه نه لري؟ (مرکز المناهج للاشراف والتدریب التربیوي، ۱۴۰۰). په دې ایت کې علم لرونکي خلک د علم نه لرونکو خلکو په پرتله غوره ګڼل شوي دي چې دا د علم د لوړې درجې څرګندونه کوي. **يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ** *سورة المجادلة، آیت (11)* ژباړه: الله به هغو کسانو ته چې ستاسې له ډلې څخه یې ایمان راوړی دی او هغوی ته چې علم ورکړل شوی دی، لوړې درجې ورکړي (مرکز المناهج ، ۱۴۰۰). په دې آیت کې الله تعالی د علم لرونکو خلکو ته د ځانګړو لوړ درجو د ورکولو زېری ورکړی دی، چې دا د علم په لور یوه پیاوړې هڅونه ده.

**د مسئلې بیان**: په معاصره نړۍ کې، ګڼ شمیر فکتورونه د محصلانو پر انګېزه او تحصیلي پرمختګ اغېز لري. له دې فکتورونو څخه، د فردي او ټولنیزو فشارونو زیاتوالی، اقتصادي ستونزې، د مسلکي راتلونکي په اړه اندېښنې، او د زده‌کړې فرصتونو کمښت یادولای شو. په ځانګړې توګه، په هغو ټولنو کې چې تحصیلي سرچینې او ملاتړ محدود دي، محصلان د انګېزې کمښت او تحصیلي ستړیا سره مخامخ کېږي، چې په تحصیلي فعالیتونو او تحصیلي پرمختګ پر کیفیت ښکاره اغېز کوي.

د همدې ستونزې د حل په موخه، د محصلانو د تحصیلي پرمختګ لپاره د انګېزې پېژندل او د هغې پر اغېز لرونکو لاملونو تمرکز کول اړین دي. په دې څېړنه کې شوې چې د زده‌کړې په بهیر

کې هغه اساسي فکتورونه روښانه شي، چې د محصلانو پر تحصیلي پرمختګ انګېزه کې مثبته یا منفي ونډه لري، ترڅو د تحصیلي بریا لپاره مناسبې پالیسی او ستراتیژۍ وړاندې شي.

انګېزه هغه ځواک دی، چې یو څوک د شتمنۍ تر لاسه کولو ته او بل د خلکو خدمت ته کولو ته اړ باسي، یعنې انګېزه کړنو ته لوری او جهت ټاکي (حقیار، ۱۳۹۰). کله چې محصلان پوهنتون ته بریالي شي، د نوي تحصیلي چاپېریال سره ځان برابرول او د درسونو د حجم زیاتوالي منل ورته ستونزمن وي، ډېری محصلان په لومړیوکې او ځینې تر فارغېدو پورې د شدید افت (لویدنې) سره مخ کېږي. هغه محصلان چې د خپلې هڅې سره مطلوبې پایلې نه تر لاسه کوي، د درس لوستلو لپاره هېڅ انګېزه نه لري. انګېزه د زده‌کړې یو له لومړنیو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي چې اغېز یې د افرادو په فعالیتونو کې ټولو ته څرګند دی. همدارنګه انګېزه له پرمختګ او بریالیتوب سره نېغ په نېغه اړیکه لري. د ډېری ارواپوهانو او استادانو په باور انګېزه په تحصیلي پرمختګ کې یو اهم لامل دی او د انګېزې ارزښت او اړتیا ته په کتو وخت پر وخت د انګېزې اړوند ډېرو څېړنو ته جدي اړتیا ده (سهرابي او همکاران، ۱۳۹۵).

**د څېړنې اړتیا او ارزښت**: نو پر همدغې بنسټ د تدریس پر مهال لیدل کېږي، چې د فزیک څانګې محصلان دکورنیو دندو په تر سره کولو کې سستي کوي، د سیمینارونو په وړاندې کولو کې علاقه نه لري. پر دې سربېره ، کتابتون چې د مطالعې او تحصیلي پرمختګ مهم ځای دی، د فزیک څانګې محصلان د نورو څانګو محصلانو په پرتله، په ډېره ټیټه کچه کتابتون ته مراجعه کوي. دا حالت نه یوازې د محصلانو تحصیلي پرمختګ ته زیان رسولی؛ بلکې د دوی راتلونکې مسلکي وړتیاوې هم تر جدي ګواښ لاندې راولي. نو پوښتنه دا ده، چې کوم لاملونه د فزیک څانګې محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزه اغېزمنه کړې ده؟ چې محصلان د پرمختګ لپاره لازم فعالیتونه نه تر سره کوي. نو لازمه وګڼل شوه، چې پورته ستونزې ته په کتو د فزیک څانګې محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې د اغیزمنو لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړو؛ تر څو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونه لومړیتوب بندي او د ټولګیو په کچه پرتلېز ډول وڅېړل شي.

**مخینه**: انګېزه د زده‌کړې یو له ارزښت لرونکو شرایطو څخه ده(کدیور، ۱۳۹۳)، چې د هر محصل د تحصیلي پرمختګ لپاره بنسټېزه اړتیا ده. که یو محصل د تحصیلي پرمختګ لپاره لوړه انګېزه ولري، نو هغه به په زړورتیا سره د زده‌کړو پر وړاندې هر ډول ستونزو ته په پوره ډاډ سره ځواب

ووايي او هڅه به وکړي چې خپلې تحصيلي موخې تر لاسه کړي. برعکس، که محصل د انگېزې له کمښت سره مخ وي، د زده‌کړو پروسه به يې ټکنۍ شي او ښايي د تحصيلو لاس ته راوړنو په وړاندې جدي ستونزې ولري.

په ځانگړې توگه، په هغو شرايطو کې چې محصلان له گڼو ټولنيزو، اقتصادي، او تحصيلي ننگونو سره مخ وي، د انگېزې د ساتلو او زياتولو اړتيا ډېره احساس کېږي. د دغې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې د هغو فکتورونو په اړه رڼا واچوي تر څو د محصلانو د تحصيلي انگېزې په کمښت يا زياتوالي کې رول لري. که دا فکتورونه په سم ډول وپېژندل شي، نو امکان لري چې تحصيلي ادارې، استادان، او څېړونکي د دغو ستونزو د حل لپاره اغېز پروگرامونه او بنسټېزې لارې چارې وړاندې کړي.

پر دې سربېره،په تحصيلي ادارو کې انگېزه نه يوازې د شخصي پرمختگ لپاره اړينه ده، بلکې دا په ټولنه کې د تحصيلي کچې د لوړولو او د هېواد د اقتصادي او ټولنيزې ودې لپاره هم مهم رول لري. د دې څېړنې په پايله کې تر لاسه شوې پوهه کولی شي د هغو پروگرامونو او تگلارو په جوړولو کې مرسته وکړي چې د محصلانو د انگېزې د لوړولو لامل شي.

د انگېزې تعريف: انگېزه هغه لامل دی، چې فرد تحريکوی، حرکت ته يې اړ باسي او د روښانه کړنې په لور يې سوق کوي (خپلواک، ۱۴۰۱). راپاپورت وايي چې انگېزه يو اشتها راوړونکی (هڅوونکی) داخلي ځواک دی (علمي او همکاران، ۱۳۹٦). يا انگېزه هغه بهير دی، چې کړنې ته ځواک ورکوي، روښانه لوری ورته ټاکي او د انرژي په ساتلو کې مرسته کوي (بيابانگرد، ۱۳۹۴). په عمومي ډول کولای شو انگېزې په دوه ډلو ووېشو: فزيولوژيکي انگېزې او اروايي انگېزې.

**الف)** فزيولوژيکي انگېزې (لومړنۍ انگېزې): هغه انگېزې چې د ژوندي موجود د بدني اړتياوو پر بنسټ ولاړې وي او ذاتي اړخ ولري لکه: لوږه، تنده، خوب ته اړتيا....

**ب)** اروايي انگېزې: اروايي انگېزې، هغه انگېزې دي، چې بنسټ يې پر چاپېريالي لاملونو ولاړ دی او د زده‌کړې د اصل تابع وي، چې په بېلابېلو ټولنو کې په بېلابېلو ډولونو څرگندېږي. ځينې يې عبارت دي له، ټولنيز ژوند ته ميلان، فعاليت، مال او مقام سره مينه او داسې نور (خپلواک، ۱۴۰۱).

تحصيلي انګېزه: تحصيلي انګېزه د زده‌کړې يو له اړينو لاملونو څخه شمېرل کېږي چې سلوک او چلند ته شدت او لوری (جهت) ورکوي او محصلانو سره د هغه په ساتلو کې مرسته او انرژي ورکوي (نوري او همکاران، ۱۳۹۴).

بهارلو او همکارانو (۲۰۲۳) د ايران هېواد کې پر زده‌کوونکو د تحصيلی پرمختګ انګېزی او پرځان باور اغېزو مطالعې ترسر ليک لاندې څېړنه تر سره کړي او پايلې ښکارندوي، هغه ماشومان چې په ځان ډېر باور لري، د ځان باور، استعداد، نوښت او د ځان ښکارندولو احساس لري، چې په اسانۍ سره د چاپېريالي عواملو تر اغېزې لاندې نه راځي. په ځان باور او ځانته درناوی درلودل نه يوازې د رواني روغتيا يوه برخه ګڼل کېږي، بلکې له تحصيلي پرمختګ انګېزې سره هم اړيکه لري.

بيابانګرد (۱۳۸۴) په تهران کې د دربيم کال د عالي لېسې زده‌کوونکو کې د ځان ته درناوي (عزت نفس)، د پرمختګ انګېزه او تحصيلي پرمختګ تر منځ اړيکې څېړنې پايلې ښئي، چې د ځان ته درناوی، د پرمختګ انګېزې او تحصيلي پرمختګ تر منځ مانالرونکي اړيکه شتون لري.

خسروپور او نېکويي (۱۳۹۳) د ايران په هېواد کې د بشپړتيا ، پرمختګ انګېزې او د نرسنګ محصلانو تحصيلي فعاليت سره د ځان درناوي تر منځ اړيکې مطالعې تر سرليک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. موندنې داسې ښکارندوي چې د علمي فعاليت او کمال ته رسېدو، د پرمختګ انګېزې او ځان ته درناوي تر منځ د پامور او مثبت اړيکه موجوده وه. کمال ته رسېدو او ځان ته درناوی په ګډه د علمي فعاليت ٪۳۰ توپير وړاندوينه کوي؛ خو د مطالعې متغيرونو تر منځ خطي اړيکه دا ښئي چې يوازې د پرمختګ انګېزه د علمي فعاليت سره د پام وړ اړيکه لري.

رييسون (۱۳۹۳) د ايران هېواد په محصلانو کې د پرمختګ انګېزې او تحصيلي پرمختګ تر منځ اړيکې مطالعې تر سرليک لاندې څېړنه تر سره کړې ده، چې پايلې يې داسې وړاندې کړې دي. د پرمختګ هڅونې او تحصيلي پرمختګ تر منځ اړيکه شتون لري او ويلای شو، چې په محصلانو کې د پرمختګ هڅونې په پياوړي کولو سره د تحصيلي برياليتوب کچه لوړه کړو.

سهرابي او همکارانو (۱۳۹۵) د ايران د طبي علومو پوهنتون د پيراميډيکل[۱] پوهنځي د لېسانس دورې محصلانو د تحصيلي بريا (تحصيلي کاميابي) سره د زده‌کړې د پرمختګ انګيزې او د وخت

---

۱. paramedical

مدیریت اړیکې مطالعې تر سر لیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده، له پایلو یې ښکاري، چې د وخت مدیریت او د زده‌کړې د پرمختګ انګېزه له علمي بریا سره مانا لرونکې اړیکه لري.

طالب‌پور او همکارانو (۱۳۸۱) د ایران په هېواد کې د کنټرول ډلې محصلانو د تحمل، انګېزې او تحصیلي پرمختګ په اړه د ادراکي روزنې اغېز تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې او موندنې یې څرګندوي چې ادراکي روزنه د محصلانو انګیزې د نومرو پر زیاتوالي مانادار اغېز درلود؛ خو پر تحصیلي پرمختګ یې اغېز نه دی ښودل شوی.

فرهنګ او احساس (۲۰۲۳) په افغانستان کې د غور د لوړو زده‌کړو مؤسسې د محصلانو د تحصیلي لاسته راړنو د انګېزې کچې څېړنه تر سره کړې او د تر لاسه شوو پایلو پر بنسټ، د پرمختګ انګېزه د محصلانو د بېلابېلو ځانګړتیاوو لکه د ځانګې، جنسیت او واده وضعیت سره هېڅ مانا لرونکې اړیکه نه لري. خو دا د څېړنې د ګډونوالو د عمر سره تړاو لري، یعنې هر څومره چې د ګډونوالو عمر زیات شي، د تحصیلي پرمختګ انګېزه هم یکې لوړېږي.

فطرت او همکارانو (۱۴۰۳) په افغانستان کې د کابل پوهنتون د محصلانو په منځ کې د زده‌کړې لیوالتیا او د تحصیلي پرمختګ انګېزې تر منځ اړیکې ترسرلیک لاندې څېړنې پایلو کې وایې چې تحصیلي کال د تحصیلي پرمختګ پر انګیزې باندې مانالرونکی اغېز لري.

ګل شکوه او همکارانو (۱۳۸۸) د ایران هېواد کې د فکر کولو سبک، د پرمختګ انګېزې، علمي پرمختګ او نوښت سره د محصلانو د کار رامنځته کولو تر منځ اړیکې تر سر لیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده چې پایلې یې داسې څرګندوي: د P <۰,۰۱ په کچه پایلو ښودلې چې د قانون جوړوونکي تفکر سبک، د پرمختګ انګېزه، نوښت، د ځانګړي تفکر سبک او تحصیلي پرمختګ د کار رامنځته کولو وړاندوینه کوي.

محمودي او همکارانو (۱۳۹۹) د شیراز د طبي برخې محصلانو کې د تحصیلي انګېزې کچې پرتله کولو تر سر لیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده، له پایلو یې ښکاري، چې د تحصیلي انګېزې اوسط ۸۱,۷ له ۹,۰۳ معیاري انحراف سره محاسبه شوی. د ټیټې انګېزې محصلانو فرېکونسي ۱۵۱ (۷,۴۶ سلنه) او د لوړې انګېزې محصلانو فرېکونسي ۱۷۲ (۳,۵۳ سلنه) ده. پایلو د انګېزې او عمر (۰,۱۸)، تحصیلي کچې (۰,۳) او د تأهل وضعیت (۰,۸٪) تر منځ د پام وړ احصایوي اړیکه نه ده ښودلې؛ خو د جندر (۰,۰۰۳) او د استوګنې حالت (۰/۰۰۲) سره له اماري پلوه د پاموړ توپیر شتون درلود.

منصورنیا او کریمي (۱۳۹۹) د ایران هېواد کې، په محصلانو کې د تحصیلي ستړیا د منځګړیتوب په رول سره د پرمختګ انګېزې او تحصیلي کې ځان کمزوري تر منځ د اړیکې مطالعې تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړي، چې موندنو يې ښئي د پرمختګ انګېزې او تحصیلي کې ځان کمزوری ګڼلو تر منځ هېڅ مانالرونکې اړیکه نه ده موجوده؛ خو د تحصیلي ستړیا (فرسودګی) او تحصیلي کې ځان کمزوری ګڼلو تر منځ مثبته او مانالرونکې اړیکه شتون لري.

مومنی مهموئي او جلالي بارزاري (۱۳۹۵) د ایران هېواد کې د استادانو تحصیلي باور، د ټولنیز ملاتړ پوهاوی، د پرمختګ انګېزې او د محصلانو تحصیلي پرمختګ سره اړیکې تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړي، د څېړنې پایلې وښودل، چې د علومو او ریاضي په درسونو کې د جنسیت له مخې د ټولنیز ملاتړ پوهاوی، د پرمختګ انګېزې او د محصلانو تحصیلي پرمختګ سره د استادانو تحصیلي خوشبیني اجزاو تر منځ د پاموړ اړیکه شتون نه لري.

میکاییلي او همکارانو (۱۳۹۳) د ایران هېواد کې د لېسانس دورې د محصلانو په منځ کې اخرت ته پام کول (له مرګ وروسته ژوند باندې عقیده درلودل او په فردي کړنو کې د هغه ارزښت)، په ژوند کې موخه لرل، هیله درلودل، تحصیلي هڅونې او د تحصیلي کړنو تر منځ د اړیکې څېړنې ترسرلیک لاندې علمي مطالعه تر سره کړي، پایلو يې وښودل چې اخرت ته پام، په ژوند کې موخه لرل، هیله او د زده‌کړې انګېزه کولای شي چې د محصلانو تحصیلي کړنې وړاندوینه کړي.

نوري او همکارانو (۱۳۹۴) يې د ایران په هېواد کې د تحصیلي انګېزې پر بنسټ د فزیک مضمون درسونو کې د علمي ځان باوری او علمي پرمختګ تر منځ د اړیکه تر سر لیک لاندې څېړنه تر سره کړي، د دې څېړنې پایلو ښودلې، چې د تحصیلي انګېزې او ځان باوری او د فزیک په درسونو کې پرمختګ تر منځ مثبتې اړیکې شتون درلود.

### د څېړنې موخې

له همدې امله، دا څېړنه لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې پر محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو څېړلو تر سرلیک لاندې تر سره شوي ده او لاندې فرعي موخې تعقیبوي:

**فرعي موخې**

۱. د تحصیلي کال پر بنسټ د فزیک څانگې د محصلانو د تحصیلي پر مختګ انګیزي لاملونو (استقامت، پر ځان باور، مدیریت او فرصت) تر منځ پرتلنه کول.

۲. د تحصیلي کال پر بنسټ فزیک څانګې د محصلانو تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو (کوښښ او زیار، د لوړو هیلو کچه، راتلونکي ته پام او د ملګرو په غوره کولو کې د وړتیا معیار ته پاملرنه) تر منځ پرتلنه کول.

**د څېړنې پوښتنې**: څېړنه لاندې پوښتنو ته د ځواب موندلو په موخه تر سره شوې:

۱. ایا د تحصیلي کال پر بنسټ د فزیک څانګې د محصلانو د تحصیلي پر مختګ انګیزي لاملونو (استقامت، پر ځان باور، مدیریت او فرصت) تر منځ توپیر شته؟

۲. ایا د تحصیلي کال پر بنسټ فزیک څانګې د محصلانو تحصیلي پرمختګ انګیزې لاملونو (کوښښ او زیار، د لوړو هیلو کچه، راتلونکي ته پام او د ملګرو په غوره کولو کې د وړتیا معیار ته پاملرنه) تر منځ توپیر شته؟

## مواد او کړنلاره

د غه څېړنه د موخې له نظره یوه کارېدونکې، د ډول له مخې توصیفي-تحلیلي او د معلوماتو راټولولو له نظره کمي څېړنه ده. احصائیوي ټولنه د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې ټول محصلان دي، چې شمېر یې (۴۵) تنه دی، څرنګه چې ټولنه ډېره محدوده او کوچنۍ ده، نو ۴۰ تنه ټول محصلان دې شامل شي. د معلوماتو را ټولولو لپاره د هرمنس د تحصیلي پر مختګ انګېزې سټنډرډ پوښتنپاڼې څخه ګټه اخېستل شوې، چې اعتبار یې د کرونباخ الفا پر بنسټ (۰,۸۰۱) تر لاسه شوی. همداراز د رضایي شریف او فراهاني په څېړنه کې چې په ۱۳۹۰ کال کې تر سره شوې د پوښتنپاڼې اعتبار د کرونباخ د الفا پربنسټ ۰,۸۳ او د قرباني او جعفري په څېړنه کې، چې په ۱۳۸۵ کال کې تر سره شوې ۰,۷۶ لاسته راغلی ده. دغه پوښتنپاڼه ۳۹ پوښتنې او ۸ فکتورونه (مؤلفې) لري او د پوښتنو ځوابونو لپاره د څلور ټاکنیز لیکرټ طیف کارول شوی. د ځوابونو د نمرو ورکړه له یو څخه تر څلور پورې درجه بندي شوې دي. معلومات د IBM -SPSS-26 پر بنسټ تحلیل او له (One way ANOVA) ټېسټونو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

## د څېړنې موندنې

دلته لومړی د اطلاعاتو توصيفي شننه تر سره شوې او وروسته بیا استنباطي شننې موندنې راوړل شوي دي.

د څېړنې په توصيفي شننه کې لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې محصلانو ګډون په اړه معلومات وړاندې شوي او په لاندې (۱) جدول کې لازم تشریحات هم ورکړل شوي دي.

لومړی جدول: په څېړنه کې د دیموګرافیکي ځانګړنو پر بنسټ د ګډونوالو شمېر

| ټولګی | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| لومړی | ۴ | ۱۰٪ |
| دویم | ۱۰ | ۲۵٪ |
| درېیم | ۱۰ | ۲۵٪ |
| څلورم | ۱٦ | ۴۰٪ |
| ټولټال | ۴۰ | ۱۰۰٪ |

پورتنی (۱) شمېره جدول ښئي چې په څېړنه د فزیک څانګې څلورو ټولګیو څخه ټولټال (۴۰) کسانو ګډون کړی، چې (۴) تنه یې لومړي ټولګي، (۱۰) تنه له دویم ټولګي، (۱۰) تنه له درېیم ټولګي او (۱٦) تنه یې له څلورم ټولګي څخه ګډون درلود.

د څېړنې په استنباطي شننه کې د ښوونې او روزنې پوهنځي فزیک څانګې محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونو د تحصیلي کال پربنسټ پرتله کولو لپاره له یو طرفه واریانس له تحلیل ټېسټ څخه ګټه اخیستل شوې. په لاندې جدولونو کې یې کمي معلومات لیکل شوي او لازم تشریحات هم ورکړل شوي دي.

**د څېړنې لومړۍ پوښتنه:** ایا د تحصیلي کال پر بنسټ د فزیک څانګې د محصلانو د تحصیلي پر مختګ انګیزې لاملونو (استقامت درلودل، په ځان باور درلودل، د وخت مدیریت او فرصت پېژندنې) تر منځ توپیر شته؟

د څېړنې لومړۍ پوښتنې ته د ځواب موندلو په موخه له یو طرفه واریانس ټېسټ ( One way ANOVA) څخه ګټه اخیستل شوې ده او د څلورو متغییرونو(استقامت درلودل، په ځان باور درلودل، د وخت مدیریت او فرصت پېژندنه) د تحصیلي کلونو پر بنسټ احصایوي تحلیل تر سره شوی، د لا وضاحت په موخه په لاندې ډول لازم تشریحات هم ورکړل شوي دي.

دویم جدول: د تحصیلي کال پر بنسټ د فزیک څانګې د محصلانو د تحصیلي پر مختګ انګېزې لاملونو (استقامت درلودل، په ځان باور درلودل، د وخت مدیریت او فرصت پېژندنې) تر منځ پرتله کول

| متغییر | تحصیلي کال | شمېر | اوسط | سټنډرډ انحراف | Df | F | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| استقامت درلودل | لومړی کال | ۴ | ۲۰.۵ | ۱,۲۹ | ۳ | ۳,۰۴۱ | ۰,۰۴۱ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۱٦,۱ | ۴,۰۴ | | | |
| | دریم کال | ۱۰ | ۱۵,۳ | ۲,۹ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱٦,۹۳ | ۲,۵۱ | | | |
| **متغییر** | **تحصیلي کال** | **شمېر** | **اوسط** | **سټنډرډ انحراف** | **Df** | **F** | **Sig** |
| په ځان باور درلودل | لومړی کال | ۴ | ۲۰,۵ | ۰,۵۷ | ۳ | ۰,۲۱۹ | ۰,۸۸۲ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۱۹,۷ | ۲,۱٦ | | | |
| | دریم کال | ۱۰ | ۱۹,۵ | ۲,۳٦ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۹,۷ | ۲,۰۸ | | | |
| **متغییر** | **تحصیلي رشتې** | **شمېر** | **اوسط** | **سټنډرډ انحراف** | **Df** | **F** | **Sig** |
| د وخت مدیریت | لومړی کال | ۴ | ۱۹,۵ | ۳,۰۰ | ۳ | ۰,۴۸۹ | ۰,٦۹۲ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۱۸,۱ | ۲,۴٦ | | | |
| | دریم کال | ۱۰ | ۱۸,۹ | ۲,۰۷ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۸,۹۳ | ۱,۹۴ | | | |
| **متغییر** | **تحصیلي رشتې** | **شمېر** | **اوسط** | **سټنډرډ انحراف** | **Df** | **F** | **Sig** |
| فرصت پېژندنه | لومړی کال | ۴ | ۱۰,۰۰ | ۱,۴۱ | ۳ | ۲,۱۲۸ | ۰,۱۱۴ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۹,۱۰ | ۲,۰۲ | | | |
| | دریم کال | ۱۰ | ۹,۳۰ | ۱,۹۴ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۰,۵٦ | ۱,۰۹ | | | |

په پورتني ۲ شمېره جدول کې درج ارقام ښئي چې د استقامت په برخه کې د یو طرفه واریانس ټېسټ پایلې ښئي چې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۲۰,۵) نومرې لري او دریم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۵,۳) نومرې اخیستې، چې د مانادارۍ کچه یې (۰,۰۴۱ =P) لاس ته راغلې ده، یعنې د تحصیلي کال پر بنسټ د استقامت په برخه کې د پاموړ توپیر شتون لري. همدارنګه د ځان باور په برخه کې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۲۰,۵) نومرې لري او دریم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۹,۵) نومرې اخېستې چې مانیزه

کچه يې (P= ۰,۰۴۱) لاس ته راغلې ده. د وخت مديريت په برخه کې لومړی تحصيلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۹,۵) نومرې لري او دويم تحصيلي کال تر ټولو ټيټ اوسط (۱۸,۱) نومرې اخيستې چې مانيزه کچه يې (P= ۰,٦۹۲) لاس ته راغلې ده او د فرصت پېژندنې په برخه کې لومړی تحصيلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۰,۰۰) نومرې لري او دويم تحصيلي کال تر ټولو ټيټ اوسط (۹,۱۰) نومرې اخيستې، چې مانيزه کچه يې (P= ۰,۱۱۴) لاس ته راغلې ده؛ نو ويلای شو، چې يوازې د استقامت درلودلو په برخه د تحصيلي کال پر بنسټ ډېر توپير شتون او په نورو برخه کې توپير شته؛ خو مانالرونکی نه‌دی.

**دويمه پوښتنه:** ايا د تحصيلي کال پر بنسټ فزيک ځانګې د محصلانو تحصيلي پرمختګ انګېزې لاملونو (کوښښ او زيار، د لوړو هيلو کچه، راتلونکي ته پام او د ملګرو په غوره کولو کې د ورتيا معيار ته پاملرنه) تر منځ توپير شته؟

د څېړنې دويمې پوښتنې ته د ځواب ويلو په موخه له يو طرفه واريانس ټېسټ ( One way ANOVA) څخه ګټه اخېستل شوې ده او د څلورو متغيرونو (کوښښ او زيار، د لوړو کچو هيلې، راتلونکي ته پاملرنه او د ملګرو په غوره کولو کې د ورتيا معيار ته پام کول) د تحصيلي کلونو پر بنسټ احصايوي تحليل تر سره شوی، د لا وضاحت په موخه په لاندې ډول لازم تشريحات هم ورکړل شوي دي.

درېيم جدول: د تحصيلي کال پر بنسټ فزيک ځانګې د محصلانو تحصيلي پرمختګ انګېزې لاملونو (کوښښ او زيار، د لوړو هيلو کچه، راتلونکي ته پام او د ملګرو په غوره کولو کې د ورتيا معيار ته پاملرنه) تر منځ پرتله کول.

| متغيير | تحصيلي کال | شمېر | اوسط | ستېنډرډ انحراف | Df | F | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کوښښ او زيار | لومړی کال | ۴ | ۱۱,۷۵ | ۰,۹۵ | ۳ | ۱,۱۳۳ | ۰,۳۹۴ |
| | دويم کال | ۱۰ | ۱۰,۱۰ | ۲,۱۸ | | | |
| | درېيم کال | ۱۰ | ۱۱,۲۰ | ۱,٦۱ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۰,۸۵ | ۱,۵۸ | | | |
| **متغيير** | **تحصيلي کال** | **شمېر** | **اوسط** | **ستېنډرډ انحراف** | **Df** | **F** | **Sig** |
| د لوړو هيلو کچه | لومړی کال | ۴ | ۱۸,۵۰ | ۱,۷۳ | ۳ | ۱,۸٦۳ | ۰,۱۵۳ |
| | دويم کال | ۱۰ | ۱۵,۲۰ | ۳,۲۹ | | | |
| | درېيم کال | ۱۰ | ۱۵,۹۰ | ۲,۳۷ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱٦,۱۸ | ۱,۷۵ | | | |

| متغییر | تحصیلي رشتې | شمېر | اوسط | سټنډرډ انحراف | Df | F | Sig |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| راتلونکي ته پام | لومړی کال | ۴ | ۱۴,۰۰ | ۱,۸۲ | ۳ | ۱,۳۱۱ | ۰,۲۸٦ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۱۲,۷۰ | ۲,۵۴ | | | |
| | درېیم کال | ۱۰ | ۱۲,۴۰ | ۱,۵۷ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۳,۵٦ | ۱,۴۱ | | | |
| **متغییر** | **تحصیلي رشتې** | **شمېر** | **اوسط** | **سټنډرډ انحراف** | **Df** | **F** | **Sig** |
| د ملګرو په غوره کولو کې د وړتیا معیار ته پام | لومړی کال | ۴ | ۱۹,۷۵ | ۰,۵۰ | ۳ | ۲,۴۳۹ | ۰,۰۸۰ |
| | دویم کال | ۱۰ | ۱۵,۹۰ | ۳,۹۸ | | | |
| | درېیم کال | ۱۰ | ۱٦,۹۰ | ۲,۱۸ | | | |
| | څلورم کال | ۱٦ | ۱۷,۸۷ | ۲,۰۲۸ | | | |

پورتني (۳) جدول ته په کتو د کوښښ او زیار په برخه کې د یو طرفه واریانس ټېسټ پایلې ښئي چې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۱,۷۵) نومرې لري او دویم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۰,۱۰) نومرې اخیستي، چې مانیزه کچه یې (P=۰,۳۹۴) لاسته راغلي ده. همدانګه د لوړو هیلو کچې په برخه کې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۸,۵۰) نومرې لري او دویم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۵,۲۰) نومرې اخیستي، چې مانیزه کچه یې (P= ۰,۱۵۳) لاسته راغلې ده. د راتلونکي ته پام (اینده‌نګری) په برخه کې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۴,۰۰) نومرې لري او درېیم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۲,۷۰) نومرې اخیستي، چې د معنیٰداری کچه یې (P= ۰,۲۸٦) لاسته راغلې ده او د ملګرو په غوره کولو کې د وړتیا معیار ته پاملرنې په برخه کې لومړی تحصیلي کال په سلو کې تر ټولو لوړ اوسط (۱۹,۷۵) نومرې لري او دویم تحصیلي کال تر ټولو ټیټ اوسط (۱۵,۹۰) نومرې اخېستي چې مانیزه کچه یې (P= ۰,۰۸) لاس ته راغلې ده؛ نو ویلای شو، چې په ټولو برخو کې د تحصیلي کال پربنسټ مانالرونکی توپیر نه شته.

## مناقشه

په دغه څېړنه کې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د فزیک څانګې محصلانو د تحصیلي پرمختګ انګېزې لاملونه څېړل شوي دي. د څېړنې له پایلو ښکاري چې د لومړي ټولګي محصلانو اوسط په ټولو برخو کې (پر ځان باور، د وخت مدیریت، استقامت درلودل، د ملګرو په غوره کولو کې د وړتیا معیار ته په پام کول، د لوړ هېلو کچه، راتلونکي ته پام، کوښښ او زیار او

فرصت پېژندنې) د نورو ټولګیو پرنسبت لوړ دی، دا ښئي چې نوي شامل شوي محصلان زده‌کړې ته له پوره انګېزې سره داخلیږي او د پرمختګ لپاره چمتو دي؛ خو دا توپیر مانالرونکی نه‌ده. یوازې د استقامت په برخه کې مانالرونکی توپیر موندل شوی‌ده.

نو پر همدې بنسټ، د څېړنې د لومړۍ او دویمې پوښتنې موندنې څرګندوي چې یوازې د استقامت درلودلو په برخه کې د تحصیلي کال پربنسټ د محصلانو تحصیلي پرمختګ انګېزې د اغېزمنو لاملو تر منځ مانالرونکی شته. همدا راز په ټولو برخو کې د لومړي ټولګي اوسط د نورو تولګیو پرنسبت لوړ موندل شوی ده. د دغې څېړنې موندنې د نوري او همکارانو (۱۳۹۴)، بیابان ګرد (۱۳۸۴) او فطرت او همکارانو (۱۴۰۳) د څېړنو له پایلو سره همغږي نه‌لري.

## پایلیزه

د څېړنې پایلو ته په کتو ښکاري چې یوازې د لومړي ټولګي محصلانو د نورو ټولګیو د محصلانو پر نسبت د تحصیلي پرمختګ لپاره ښه انګېزه لري؛ اما دویم، دریم او څلورم ټولګیو کې بیا د تحصیلي پرمختګ انګېزه مخ په کمېدو ده. که دا حالت دوام پیدا کړي، کېداشي ناوړه پایلې ولري لکه د زده‌کړو کمزورتیا، ابتکار او نوښت له منځه تلل، تحصیلي لویدنه (افت تحصیلي)، د زده‌کړو پرېښودل، ټولنې ته په علمي لحاظ کمزوري علمي کادرونه وړاندې کول، مالي او بشري ځواک انرژي ضایع کېدل، حتی د استادانو پر کړنو هم اغېز کولای شي او په ټوله کې د پرمختګ خنډ ګرځي.

**وړاندیزونه**: پایلو ته په کتلو سره د ببړنیو او دوامداره کړنو تر سره کول اړین دي، لکه په پوهنتون کې د رواني مشورې مرکز ته د هغو محصلانو ورپېژندل چې د ځان باور په برخه کې ستونزې لري، اړوند مسؤلین دي محصلانو ته د فزیک په برخه کې د کاري فرصتونو پېژندلو او د فزیک څانګې محصلانو د راتلونکي سرنوشت په اړه دې علمي سمینارونه دایر کړي او په ټولګیو کې د تدریس تر څنګ په دغه موضوعاتو هم لنډ بحث وکړي تر محصلان خپل راتلونکي څخه روښانه تصویر ولري؛ څو په شوق سره زده‌کړې وکړي. دا حللارې کولای شي د محصلانو د تحصیلي پرمختګ د انګېزې په لوړو کې سره مرسته وکړي.

## اخځلیکونه

بهارلو, مهري, موسوي, آزادبخت, & میترا. (2023). تاثیر عزت نفس و انگیزه پیشرفت تحصیلی بر دانش آموزان. مطالعات روانشناسی و علوم تربیتی (موسسه آموزش عالی نگاره), 91(5), 129-138.

بیابان گرد، اسماعیل. (1384). رابطه میان عزت نفس, انگیزه پیشرفت, و پیشرفت تحصیلی در دانش اموزان سال سوم دبیرستان های تهران. مطالعات روان شناختی، 1(5-4)، 131-144.

بیابانگرد، اسماعیل .(۱۳۹۴). روان‌شناسی (روان‌شناسی آموزش و یادگیری). چاپ هشتم. تهران: انتشارات ویرایش.

حقیار، عبدالمنان. ( ۱۳۹۰ ). روان‌شناسی تربیتی. جلد اول، کابل: انتشارات سعید.

خسروپور، فرشید، و نېکویی، مژگان. (1393). رابطه بین کمال گرایی, انگیزه پیشرفت و عزت نفس با عملکرد تحصیلی دانشجویان رشته پرستاری. گام های توسعه در اموزش پزشکی (STRIDES IN DEVELOPMENT OF MEDICAL EDUCATION)، 11( 4)، 542-549.

رضايي شريف، م. و فراهاني، م. (۱۳۹۰). بررسي رابطه بين انگيزه پيشرفت و خودكارآمدی با عملکرد تحصيلي دانش‌آموزان. پژوهش‌نامه روانشناسي كاربردي، ۱۱ (۴)، ۳۵-۴۴.

رییسون، محمدرضا. (۱۳۹۳). رابطه انگیزه پیشرفت با پیشرفت تحصیلی در دانشجویان. همایش کشوری آموزش علوم پزشکی. لینک.

سهرابی، زهره، قوتی، فاطمه، میرحسینی، فخرالسادات، و حسینی، اغافاطمه. (1395). بررسی ارتباط انگیزه پیشرفت تحصیلی و مدیریت زمان با موفقیت تحصیلی دانشجویان کارشناسی دانشکده پیراپزشکی دانشگاه علوم پزشکی ایران. علوم پزشکی رازی (مجله دانشگاه علوم پزشکی ایران)، 23(150)، 35-45.

طالب پور، اکبر، نوری، ابوالقاسم، و موسوی، حسین. (۱۳۸۱). تاثیر اموزش شناختی بر مسند مهارگذاری, انگیزه پیشرفت و پیشرفت تحصیلی دانش اموزان شاهد. مجله روانشناسی، ٦(۱ (پیاپی ۲۱))، ۱۸-۲۹.

عليمي، سراج الدين او صديقي، ذبيح الله .(۱۴۰۱). عمومي ارواپوهنه. ژباړه محمد طاهر خپلواک. اووم چاپ. کابل: سلیمان ماکو خپرندویه ټولنه، صص۱۳۳-۱۳۷.

عليمي، سراج الدين، صديقي، ذبیح الله، حبیبی، محمد ناصر و خیرخواه، خیرالدین .(۱۳۹٦). روانشناسی عمومی. چاپ پنجم. کابل: انتشارات سعید.

فطرت، م. ع، سخندان، م. ن و محمدی، ف. (۱۴۰۳). بررسی رابطه اشتیاق تحصیلی با انگیزه پیشرفت تحصیلی در محصلان پوهنتون کابل سال (۱۴۰۳). ژورنال علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل، ۷(۳)، ۱۳-۱. لینک.

قرباني، ف. و جعفري. (۱۳۸۵). بررسي انگيزه پيشرفت در دانش‌آموزان دختر و پسر، پژوهش‌نامه روانشناسی تربيتي، ۲، صفحات نامشخص.

کدیور، پروین. ( ۱۳۹۳ ). روان‌شناسی تربیتی. چاپ شانزدهم. تهران. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه ها سمت.

گل شکوه، فرزانه، احدی، حسن، عنایتی، میرصلاح الدین، عسگری، پرویز، حیدریی، علیرضا، و پاشا، غلامرضا. (۱۳۸۸). رابطه بین سبک های تفکر, انگیزه, پیشرفت, پیشرفت تحصیلی و خلاقیت با کارافرینی دانشجویان. یافته های نو در روان شناسی (روان شناسی اجتماعی)، ٤(۱۰)، ۱۰۵-۱۱۸.

محمودی، عبدالرضا، محمودی، فاطمه، محمودی، محمدصادق، و شمسائی، مریم. (۱۳۹۹). بررسی مقایسه ای انگیزه پیشرفت تحصیلی در دانشجویان علوم پزشکی شیراز. طب و تزکیه، ۲۹(٤ )، ۳۰۲-۳۱۵.

منصورنیا، شادان، و کریمی، کیومرث. (۱۳۹۹). رابطه بین انگیزه پیشرفت و خودناتوان سازی تحصیلی با نقش میانجی فرسودگی تحصیلی در دانشجویان. طب توانبخشی، ۹(۳ )، ۲۵۴-۲۶۴. لینک.

مومنی مهموئی، حسین، و جلالی بارزاری، سعید. (۱۳۹۵). رابطه خوش بینی تحصیلی معلمان با ادراک حمایت اجتماعی, انگیزه پیشرفت و پیشرفت تحصیلی دانش اموزان. رهیافتی نو در مدیریت اموزشی، ۷(۲ (پیاپی ۲٦))، ۱۸۱-۱۹۹.

میکاییلی منیع، فرزانه، نوری زاد، نرگس، و هاشمی، سهیلا. (۱۳۹۳). بررسی رابطه آخرت نگری, هدفمندی در زندگی, امید و انگیزش تحصیلی با عملکرد تحصیلی دانشجویان دوره کارشناسی. پژوهش های نوین روانشناختی (روانشناسی دانشگاه تبریز)، 9(36)، 181-207. لینک.

مرکز المناهج للاشراف و التدريب التربوي. (۱۴۰۰). (قرآن تدبر و عمل، ترجمۀ جماالدین علی خواهجه). تهران: انتشارات احسان، ص ۴۵۹ و ۵۴۳.

نوری، فریده، میرشاه جعفری، سیدابراهیم، و سعادتمند، زهره. (۱۳۹٤). بررسی رابطه بین خودباوری تحصیلی با پیشرفت تحصیلی در درس فیزیک مبتنی بر انگیزه تحصیلی. پژوهش در برنامه ریزی درسی (دانش و پژوهش در علوم تربیتی-برنامه ریزی درسی)، ۱۲(۱۹ (پیاپی ٤٦)، ۷۵-۸۹.

Farhang, Q., & Ahsas, M. A. (2023). Studying the level of academic achievement motivation in the students of Ghor Institute of Higher Education. *Science and Education*, *4*(10), 295-305.

Two Quarterly
Ainak Academic – Research Journal
Logar University Journal License Date: June/ 2023

# Investigating the Factors of Academic Motivation among students of the physics Department, Faculty of Education at Logar University

**Najeebullah Najeeb**
Department of Psychology and Educational Sciences, Faculty of Education, Logar University, Logar, Afghanistan.
Email: nn@logu.edu.af

**ABSTRACT**

**Problem Statement:** Although students engage in studying, their interest and participation in learning vary. Some students are actively involved, while others show little interest. The underlying reasons for these differences are not yet clear; therefore, this study was conducted to identify the factors influencing students' academic motivation.

**Objective:** Investigating the Factors of Academic Motivation among students of the physics Department, Faculty of Education at Logar University.

**Research Methodology:** This study assessed the academic motivation of students in the Physics Department at the Faculty of Education, Logar University. A descriptive-analytical design was employed, utilizing a quantitative approach for data collection. The study population comprised all 45 students of the department, of which 40 students were included in the study due to the small population size. Data were collected using the standard Hermans questionnaire, which demonstrated a reliability coefficient of 0.801 based on Cronbach's alpha, with previous studies reporting reliability ranging from 0.76 to 0.83. The collected data were analyzed using IBM-SPSS-26, and the One-Way ANOVA test was applied.

**Findings:** The results revealed that first-year students had higher average academic motivation compared to students in the second, third, and fourth years. This indicates a decline in motivation among upper-year students. The findings underscore the need for the Physics Department authorities to implement appropriate interventions to prevent potential negative outcomes and enhance students' academic engagement.

**Keywords:** Academic Motivation, Motivation, Physics Department & Students.

**Cite this article**. Najeeb, N. (2026). *Investigating the factors of academic motivation among students of the physics department, Faculty of Education at Logar University*. Ainak Two-Quarterly Academic–Research Journal,3(5),173-188.

© The Author. Logar University.